قرآن کریم او د روژې مبارکه میاشت

(د علمي-څېړنيز کنفرانس د مقالو ټولگه)



قرآن کریم او د روژې مبارکه میاشت

(د علمي-څېړنيز کنفرانس د مقالو ټولگه)

Qur’an Karim and the Blessed Month of Ramadan

ISBN 978-9936-672-17-8

2026

د افغانستان د علومو اکاډمي
Afghanistan Science Academy



د افغانستان اسلامي امارت
د علومو اکاډمي
د اسلامي علومو معاونیت
د تفسیر او حدیث مرکز

قرآن کریم او د روژې مبارکه میاشت

(د علمي ـ څېړنیز کنفرانس د مقالو ټولګه)

کابل-افغانستان
۱۴۰۵هـ ل کال

کتنپلاوي:

مولوي عرفان الله عرفان د کمیسیون رئیس
څېړنپوه نورالحق عزیزي د کمیسیون منشي
څېړنپوه عبدالکریم فضلي غړی
څېړنپوه عبدالوهاب عابد غړی
څېړنپوه سید حبیب شاکر غړی
څېړنپوه عبدالرحمن حکیمزاد غړی
څېړنپوه ویس الدین نوري غړی
څېړنوال عبدالرحمن عابد غړی
څېړندوی سمیع الله صاحبزاده غړی

د کتاب ځانګړنې:

د کتاب نوم: قرآن کریم او د روژې مبارکه میاشت (د علمي ـ څېړنیز کنفرانس د مقالو ټولګه)
لیکوالان: یو شمېر څېړونکي
ترتیب او اهتمام: څېړندوی صالح محمد فرید
د کنفرانس کال: ١٤٠٤ هـ لمریز مطابق د رمضان ١٤٤٦ هـ سپوږمیز
د چاپ کال: ١٤٠٥ هـ لمریز مطابق د ١٤٤٨ هـ سپوږمیز
د چاپ ځای: حبیب ناصر مطبعه
خپرندوی: د افغانستان د علومو اکاډمي د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست
پته: د افغانسان علومو اکاډمي، شاه بوبو جان کوخه، نوی ښار، کابل
د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست د اړیکو شمېره: ۰۲۰۲۲۰۱۲۷۹(۰۰۹۳)
د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست ایمیل: info@asa.gov.af
ISBN: ٨ – ١٧ - ٦٧٢ - ٩٩٣٦ - ٩٧٨

د چاپ ټول حقوق له علومو اکاډمي سره خوندي دي.



الحمدلله رب العٰلمين والصلوٰة والسلام على سيد المرسلين وعلى آله وأصحابه أجمعين.

ليکلړ

سرليک **مخګنه**

د مرکز یادښت..... أ
سریزه..... ۱
د قرآن کریم او رمضان تر منځ مناسبتونه..... ۹
پیامهای قرآنکریم برای روزه‌دار..... ۳۳
له رمضان سره د مخکنیو صالحینو تعامل..... ۵۲
نقش قرآن کریم در تربیت معنوی مسلمانان در رمضان..... ۸۱
پر کورنۍ ژوند د روژې برکتونه..... ۱۰۵
د روحي او بدني ناروغیو په درملنه کې د روژې ونډه..... ۱۳۲
نقش قرآن کریم و روزه در تقویت صبر و استقامت در زندگی..... ۱۵۳
د رمضان د میاشتې احکام د قرآن کریم له نظره..... ۱۷٦
رمضان مبارک فرصت تغییر..... ۱۹۲
په فرد او ټولنه د مبارکې روژې اغېزې..... ۲۱۰
روژه او د قرآن کریم تلاوت..... ۲۳۰
نقش روزه در مداوای امراض روحی و بدنی..... ۲۵۹
رمضان مبارک د بدلون غوره فرصت..... ۲۹٦
رمضان و دستگیری بی نوایان..... ۳۱۷
د قدر شپه او د هغې فضیلت د قرآنکریم له نظره..... ۳۵۲

د مرکز یادښت

اَلْحَمْدُ لِلهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالْصَّـلَوٰةُ وَالْسَّـلامُ عَلَىٰ سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ وَعَلَىٰ آلِهِ وَأَصْحَابِهِ أَجْمَعِيْنَ.

و بعد: د قرآن کریم او د رمضان ترمینځ مناسبتونه ډېر دي، له هغو مناسبتونو څخه یو یې دا دی چې قرآن کریم په همدغه درمضان په مبارکه میاشت کې نازل شوی دی، دقرآن کریم په دې میاشت کې د برکتونو نزول محسوس دی، قرآن کریم او رمضان دواړه دمؤمن لپاره شفاعت کوُونکي دي، په دې میاشت کې یوه ډېره مبارکه شپه ده چې هغې ته د قدر شپه وائي، ټولې شپې د مسلمان په ژوند کې قدر لري؛ خو دې شپې ته منصوصي قدر ورکړ شوی دی، الله تعالی فرمائي:﴿لَيْلَةُ ٱلْقَدْرِ خَيْرٌ مِّنْ أَلْفِ شَهْرٍ﴾ [القدر: ٣] (شپه د قدر خیر او غوره ده له زرو میاشتو څخه).

ویلی شو روژتي ته چې دقرآن کریم کوم کوم پیغامونه دي هغه باید ده ته په یاد وي او په هر رمضان کې یې په زړه وي درمضان تر راتګ مخکې ځان او نورو دوستانو دتذکیر په ډول را په زړه کړي، همدا راز له رمضان سره دمخکنیو نیکانو او صالحینو تعامل را په یاد کړي چې هغوی به شپږ میاشتې د رمضان د راتګ لپاره دعاوې کولې او بیا به چې رمضان تیر شو نو شپږ میاشتې به یې درمضان دقبلیدو دعاوې کولې«أما صحابة محمد وسلف هذه الأمة الصالح فكانوا يستقبلون رمضان ويستعدون له ويتهيئون لقدومه قبل أن يأتي بستة أشهر يقولون: "اللهم بلغنا رمضان"، فإذا جاء رمضان أجهدوا أنفسهم في طاعة الرحمن، وفي التقرب إلى الله الواحد الديان، فإذا انقضى الشهر الكريم ودعوه بقية العام يقولون: "اللهم تقبل منا رمضان"، فكان عامهم كله رمضان، وكانت حياتهم كلها رمضان...» [موسوعة خطب المنبر، الاصدار الثاني،الخطبة الثانية١/١٧١١] (د محمد ﷺ صحابه کرامو او د دې امت صالحو خلکو به درمضان استقبال کوه، د هغه دراتګ لپاره به یې شپږمیاشتې مخکې تیاری نیوه او ویل به

يې: ای الله! مونږ رمضان ته ورسوې، نو چې رمضان به راغی درحمن په طاعت کې به يې ځانونه ستومانه کول او الله تعالی ته به يې ځانونه نږدي کول، خو کله به چې مبارکه مياشت تمامه شي او پاتې کال نه رخصت شي دوی وايي: ای الله! له مونږ څخه رمضان قبول کړې، نو په دې سره د دوی ټول کال رمضان جوړيږي او د دوی ژوند ټول رمضان ګرځي...).

په فرد او ټولنه د مبارکې روژې اغيزې، د روحی او بدني ناروغيو په درملنه کې د روژې ونډه او په رمضان کې د بی وزلو د لاسنيوي په موخه د قرآن کريم او د روژې مبارکې مياشت د تذکيري پيغامونو د رسولو په پار د افغانستان د علومو اکاډمي د اسلامي علومو برخې د تفسير او حديث د مرکز په نوښت او زيار د يکشنبې په ورځ د ۱۴۴٦هـ ق کال د رمضان المبارک په ۲۳مه د ۱۴۰۴هجري لمريز کال د وري په ۳ مه نېټه، د افغانستان د علومو اکاډمي د علامه احمدعلي کهزاد د کنفرانسونو او سيمينارونو په تالار کې (**قرآن کريم او د روژې مبارکه مياشت**) علمي-څېړنيز کنفرانس دايرشو، په دې کنفرانس کې د علومو اکاډمي شيوخو او پوهانو د قرآن کريم په دې مبارک محفل کې ګډون کړی وو، پر ويناوو سربېره څېړونکو خپلې علمي- څېړنيزې مقالې هم وړاندې کړې چې د قرآن کريم او د روژې مبارکې مياشتې مناسبتونه، رمضان سره د پخوانيو صالحينو تعامل،د قرآن روزنيز رول، د روژې برکتونه،د روحي او بدني ناروغيو په درملنه کې د روژې ونډه او له بی وزلو سره د لاسنيوي لارښوونې او د نورو غوره قدمونو په عمل کې په پلې کولو تاکيد هم وشو.

د تفسير او حديث مرکز غواړي چې د دغه مهم او په زړه پورې کنفرانس د مقالو ټولګه خپره او نشر کړي، د دې ټولګې د اهتمام او ترتيب چارې ښاغلي څېړندوی صالح محمد فريد ته وسپارل شوې، له نوموړي څخه ډېره مننه کوو چې په ورين تندي يې د دې کنفرانس مقالې راټولې، ترتيب او د چاپ لپاره يې چمتو

کړي؛ ترڅو د یاد کنفرانس د مقالو له ټولګي څخه درانه هېوادوال او مینه وال علمي او عملي ګټه پورته کړي.

والسلام

مولوي عرفان الله "عرفان"

د تفسیر او حدیث مرکز رئیس

سریزه

نحمده ونصلِّي ونسلِّم علىٰ رسوله الكريم، أمَّا بعد؛ قال الله تبارک وتعالى: ﴿شَهۡرُ رَمَضَانَ ٱلَّذِيٓ أُنزِلَ فِيهِ ٱلۡقُرۡءَانُ هُدٗى لِّلنَّاسِ... ﴾ [البقرة: ١٨٥] (روژه هغه میاشت ده، چې په دې کې هغه قرآن نازل شوی دی، د خلکو لپاره لارښود دی). د انسان فلاح او د ټولنیز اصلاحي بدلون او د نفس اصلاح بنسټ او اساس د قرآن کریم عملي کول او ورسره په ځانګړې توګه روژې مبارکې میاشتې پورې ژور تړاو لري، قرآن کریم او روژه دواړه د انسانانو د روحاني پرمختګ او اخلاقو په لوړولو کې خورا ډېر مهم رول لري. قرآن کریم د الله ﷻ لخوا نازل شوی هغه کتاب دی چې د انسانانو لپاره په روښانه ډول د دنیوي او اخروي ژوند لارښوونې او اصول وړاندې کوي، په داسې حال کې چې روژه د انسانانو د نفس پاکولو، تقوی تر لاسه کولو او روحي لوړتیا لپاره یو مهم عبادت دی، د دې ارزښت لري چې دواړو ته توجه او پاملرنه زیاته شي.

د قرآن کریم او روژې تر منځ ځانګړې ژورې اړیکې شتون لري؛ ځکه چې دواړه د فرد د روحانیت لوړولو او له الله ﷻ سره د نږدې کېدو وسیلې دي. د رمضان په میاشت کې چې قرآن کریم نازل شوی او الله ﷻ دغه مبارکه میاشت ورته ځانګړې کړه، دا په دې معنی چې دا میاشت په ټولو میاشتو کې له خورا زیات فضیلت او برکت څخه برخمنه ده، داسې مثال لري، لکه: یوسف علیه السلام چې د خپلو یوولسو ورونو تر منځ په ښایست کې ځانګړی وو.

قرآن کریم د روژتي لپاره ځانګړي پیغامونه لري چې د انسان په معنوي روزنه کې مهم رول لري؛ تر څو مسلمانان د روژې نیولو او قرآن کریم د تلاوت لپاره ژمن پاتې شي، چې دا د فرد، کورنۍ او ټولنې په روحاني پرمختګ او په اخلاقو کې د مثبت بدلون راوستلو، روحي او جسمي ناروغیو په درملنه کې پوره مرسته کوي.

له قرآن کریم او رمضان څخه هر مسلمان د خپل نفس اصلاح، د اخلاقو

لوړتیا، د ټولنیزو مسئولیتونو مراعات، د مظلوم او فقیر لاس نیوی، د عدالت او انصاف ټینګښت او د ټولنې د اصلاح لپاره د عملي مهارتونو زده کړه تر لاسه او پلې کوي یې. د قرآن کریم له غوښتنو سره سم د روژې مبارکه میاشت د مؤمن د اخلاقي، روحاني او ټولنیز جوړښت لپاره یوه مهمه مرحله ده، چې په کې د انساني عزت او کرامت ساتنه، له فقیرانو او بې وزلو سره مرسته، دټولنې په خیریه او عامه چارو کې فعال ګډون، د ظلم مخنیوی، د مسلمانانو تر منځ ورورولي او د ټولنې په ټولو برخو کې د اخلاقي ارزښتونو رعایت کولو ته انسان هڅوي، د دې لپاره چې فردي عبادتونه یواځې د شخصي روحانیت تر کچې محدود پاتې نه شي؛ ځکه دا د بدلون لپاره یوه غوره او زرین فرصت دی، باید ټول عبادتونه د ټولنیزو، اخلاقي او معنوي مسئولیتونو لارښوونې، د قرآن کریم په رڼا کې په سمه توګه عملي شي.

د افغانستان د علومو اکاډمۍ د اسلامي علومو معاونیت د تفسیر او حدیث مرکز په هڅو د ١٤٠٤ هجري لمریز کال د وري په ١٣ مه چې د ١٤٤٦ هجري سپوږمیز کال رمضان المبارک ٢٣ مې نېټې سره برابر دی، د علومو اکاډمۍ د علامه احمد علي کهزاد د سیمینارونو او کنفرانسونو په تالار کې د «**قرآن کریم او د روژې مبارکه میاشت**» تر سرلیک لاندې علمي ـ څېړنیز کنفرانس دایر شو. په دې کنفرانس کې د افغانستان د اسلامي امارت د علومو اکاډمي عمومي رئیس شیخ الحدیث مولوي فریدالدین محمود حفظه الله، د علومو اکاډمي معاونین، ګڼ شمېر علماء کرامو، څېړونکو، استاذانو، اداري کارکوونکو او قدرمنو مېلمنو ګډون کړی وو، دغه کنفرانس د ذکر شوو مواردو د ښه وضاحت او د قرآن کریم او رمضان د اصلاحي پیغامونو د رسولو مسئولیت د اداء په موخه په ډېر ښه او مناسب وخت کې دایر او د قرآن کریم د څو مبارکو آیتونو په تلاوت سره پیل شو.

د کنفرانس پیلیزه وینا د افغانستان د اسلامي امارت د علومو اکاډمي د عمومي رئیس شیخ الحدیث مولوي فریدالدین محمود حفظه الله پیل کړه، لومړی

يې د نوموړي کنفرانس د علمي ـ څېړنيزو مقالو ليکوالان او څېړونکې وستايل او له الله ﷻ څخه يې ورته د عظيم اجر غوښتنه وکړه او په زړه پورې نقاطو ته يې اشاره وکړه چې د ګډونوالو د خوښۍ لامل شو او د قرآن کريم د تلاوت فضيلت، د روژې په اهميت او ارزښت او په رمضان المبارک کې د رسول الله صلی الله عليه وسلم د معمول په اړه ارزښتناکې خبرې وکړې او زياته يې کړه چې: روژه د انسان لپاره يوه الهي روزنه ده چې په کې الله ﷻ انسان ته د صبر، استقامت، زغم او ثبات درس ورکوي، رسول الله صلی الله عليه وسلم او ملګرو به يې د روژې مبارکې مياشتې له هرې شېبې څخه ګټه اخيستله، د شپې لمونځ (قيام الليل) او د قرآن کريم تلاوت يې په دې مياشت کې ځانګړی صفت وو، دوی په تمامه معنی ځانونه له روژې سره ټرلي ګڼل، فقيرانو او مسکينانو ته به يې په کې زياته صدقه ورکوله. روژه د اسلام له بناوو څخه يوه لويه او ستره بناء ده، چې انسان له صبر او زغم سره آشنا کوي، قرآن کريم په همدې مياشت کې نازل شوی او په دې مياشت کې د قرآن کريم تلاوت کول ځانګړی اهميت لري، په دې مياشت کې يوه داسې شپه هم شتون لري چې په کې عبادت کول د زرو مياشتو له عبادت څخه غوره او بهتر دی، چې هغه د قدر شپه ده، له ټولو مې هيله ده چې د دې مياشتې له هرې لحظې څخه پوره استفاده وکړي؛ تر څو د دنيا او آخرت سعادت او نېکمرغي مو په نصيب شي.

ورپسې د علومو اکاډمي د طبيعي ـ تخنيکي علومو مرستيال شيخ الحديث مولوي اميرجان ثاقب خپله وينا په رمضان المبارک کې د قرآن کريم د نزول، د انسانانو په روزنه کې د قرآن کريم رول او د قدر شپې اهميت او فضيلت په اړه خپله وينا په لنډو ټکو کې د علمي کنفرانس ګډونوالو ته واوروله او زياته يې کړه چې: الله جل جلاله قرآن کريم په دې مياشت کې رانازل کړی چې په راتګ او نزول سره يې ځمکه روښانه او بشريت ته يې سپېڅلې اسلامي عقيده بيان کړې ده، رسول الله صلی الله عليه وسلم به په دې مياشت کې اعتکاف کاوه او هم به

یې خپلو مېرمنو او صحابه کرامو رضی الله عنهم ته په کې د اعتکاف کولو توصیه کوله، تر دې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به هر کال د روژې په میاشت کې اعتکاف کاوه، لکه څنګه چې مو وویل: رمضان د قرآن کریم د نزول میاشت ده، رسول الله صلی الله علیه وسلم به په دې مبارکه میاشت کې له جبرائیل علیه السلام سره د قرآن کریم ګردان او تکرار کاوه، صحابه کرامو رضی الله عنهم او د دې امت اسلافو به هم په دې مبارکه میاشت کې د قران کریم ډېر زیات تلاوت کاوه.

د وینا والو په لړ کې د اسلامي بانکوالۍ او معاصرو مسائلو مرکز رئیس مفتي عبدالحق حقاني د روژې او قرآن کریم تر منځ اړیکي او په روژه کې د عبادت کولو په ارزښت هر اړخیزې خبرې وکړې او زیاته یې کړه چې: د نبوي حدیثو له حکم سره سم په دې مبارکه میاشت کې هر نېک او د خیر کار تر سره کول دومره ثواب لري لکه په نورو میاشتو کې یې چې فرضي عبادت تر سره کړی وي، روژه د رزق او روزۍ د پراختیا سبب او د صبر میاشت ده چې ثواب یې جنت دی، همدارنګه زیاته یې کړه چې د نبوي احادیثو له حکم سره سم مسلمانان باید یواځې له خوراک او څښاک کولو څخه روژه و نه نیسي، بلکې باید له غیبت، دروغ ویلو او نورو ناروا کړنو او خبرو څخه هم پکې ځانونه وساتي، له بل مسلمان ورور سره د ژوند په چارو کې مل او ملګری سي او هغه ګاونډیان یې چې فقیران دي او څه نه لري باید مرسته او کومک ورسره وکړي.

وروسته د کنفرانس علمي برخه راورسېدله چې د کنفرانس په اجندا کې ټولې (۱۵) علمي ـ څېړنیزې مقالې د لوست لپاره ځای پر ځای شوې وې، د لیکوالانو له خوا ولوستل شوې او ګډونوالو ښه په مینه اورېدلې، چې سرلیکونه او لیکوالان یې په لاندې ډول دي:

۱- د قرآن کریم او د رمضان تر منځ مناسبتونه/ څېړندوی صالح محمدفرید

۲- پیام های قرآن کریم برای روزه دار/ څېړنپوه محمدکبیر مشفق

۳- له رمضان سره د مخکنیو صالحینو تعامل/ څېړندوی عزیزالرحمن رحماني

٤- نقش قرآن کریم در تربیت معنوي مسلمانان در رمضان/ څېړنپوه ویس الدین

نوري

٥- پر کورني ژوند د روژې برکتونه/ څېړنوال عبدالرحمن حامد

٦- د روحي او بدني ناروغيو په درملنه کې د روژې ونډه/ څېړنوال محمدنبي الميداني

٧- نقش قرآن کریم و روزه در تقویت صبر و استقامت در زندگی/ څېړنوال اصحاب الدین رحماني

٨- د رمضان د مياشتې احکام د قرآن کريم له نظره/ څېړندوی محمدابراهيم حقاني

٩- رمضان مبارک فرصت برای تغییر/ څېړنوال محمدنذیر محمدي

١٠- په فرد او ټولنه د مبارکې روژې اغېزې/ څېړنپوه عبدالرحمن عادل

١١- روژه او د قرآن کريم تلاوت/ مفتي نظيف الله حنيف

١٢- نقش روزه در مداوای امراض روحي و بدني/ څېړندوی محمدکریم ادیب

١٣رمضان مبارک د بدلون غوره فرصت/ څېړندوی سمیع الله صاحبزاده

١٤- رمضان و دستگیري بینوایان/ څېړنیار کمال نوري

١٥- د قدر شپه او د هغې فضيلت د قرآن کريم له نظره/ څېړنیار احسان الله حليمي

یاد کنفرانس د ښاغلي څېړنپوه سید حبیب شاکر له خوا مثبت و ارزول شو او د تفسیر او حدیث له مرکز څخه یې منه وکړه چې په دې حساس وخت کې یې دومره مهم او ارزښتناک کنفرانس برابر کړی او د راتلونکو کنفرانسونو له پاره یې ارزښتناک وړاندیزونه وړاندې کړل، په پای کې کنفرانس د طبیعي ـ تخنیکي علومو د برخې مرستیال شیخ الحدیث مولوي امیرجان ثاقب په دعائیې سره پای ته ورسېد. والسلام

څېړندوی صالح محمد" فرید"

د تفسیر او حدیث مرکز علمي غړی